# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو آمریت

# خبري بلوټن

# News Bulletin

2حوت _سال 1401





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان — صفحه


له دوه زرو زيات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول------------------------------------------------------------------- 1

په ایټالیا کې تور کار: د بې اسناده کډوالو لپاره «شرایط ډېر سخت دي ------------------------------------------------ 2

۱۵۶ مهاجر در بندر چیویتاوکیا در ایتالیا از کشتی نجات پیاده شدند------------------------------------------------ 6

اروپايي هیوادونو ته د کډوالو د قاچاق په تور ۱۳ تنه نیول شوي ---------------------------------------------------- 7

د ایټالیا روم ښار کې د پناه غوښتنې سیستم ته د لاسرسي ستونزې» :دلته ژوند له کړاوه ډک دی«------------------- 8


خبرنامه

# متن کامل اخبار

## له دوه زرو زیات افغان مهاجر وطن ته راستانه شول

دوزارت ویب سایت




د نیمروز ولایت د وربښمو پل او هرات ولایت د اسلام قلعه له لارې د ایران څخه د سلواغې په (۲۹) مه او (۳۰) مه (۲٤۹۷) تنه افغان مهاجرینو هېواد ته راستانه شول.

د معلوماتو له مخې (۱٦٤۷) تنه داسلام قلعه او (۸۵۰) تنه د نیمروز ولایت د وربښمو پل له لارې هېواد ته راستانه شوي چې له دلې یې (۲٦۰) تنه د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان ( IOM) ته ور وپېژند شول.

## په ایټالیا کې تور کار: د بې اسناده کډوالو لپاره «شرایط ډېر سخت دي

مهاجرنیوز




د ایټالیا پلازمېنه روم ښار کې ګڼ شمېر بې اسناده کارګر تور کار کوي. ډېری دغه کسان د دولتي مرستو د نشتوالي له امله تور کار ته اړ شوي دي. په ورته مهال ایټالیا کې د کارګرو د حقونو مدافع بنسټ وایي چې حکومت د کډوالو د ستونزو د هوارولو اراده نه لري او د کډوالۍ له مسلې څخه ابزاري ګټه پورته کوي .

عبدالرب چې پر خپل بایسکل سپور دی غواړي د ګلوفو شرکت یو مشتري ته خواړه ورسوي. دغه بنګله دېشی کډوال شاوخوا ۵۰ کاله عمر لري. نوموړی چې څو کاله وړاندې یې د پناه غوښتنې دوسیه په فرانسه کې رد شوې، له تېرو پنځو کلونو راهیسې په ایټالیا کې اوسېږي. هغه وایي چې په ۲۰۱۹ کې یې ایټالیا کې د پناه غوښتنه کړې ده، خو تر اوسه یې د قبولۍ سند نه دی ترلاسه کړی. د ایټالیا د قوانینو له مخې، عبدالرب د کار اجازه نه لري او کېدای شي چې د نیول کېدو په صورت کې زندان ته واستول شي، خو هغه وایي چې کومه بله لاره نه ده ور پاتې.


Website: https://morr.gov.af
Fb page: https://m.facebook.com/morr.gov

**نوموړی وايي: «په ۲۰۲۰ کې مې له یو چا څخه د کار تړون واخیست. اوس حکومت ته ټکس ورکوم خو د یو بل کس په نوم. د خوړو، کرایې، کالیو او نورو لګښتونو ترڅنګ هره میاشت د کار د تړون اصلي خاوند ته هم ۳۰۰ یورو ورکوم. ډېرې ستونزې لرم، خو بله هېڅ لار نشته. دلته له کډوالو سره هېڅ ډول مرسته نه کېږي«.**

**څلوېښت کلن جاوید یو بل کډوال دی چې د عراق د سلیمانیې سیمې څخه راغلی دی. هغه چې ۱۴ کلونه مخکې د خپل هېواد پرېښودو ته اړ شوی دی تر اوسه پورې د قبولی سند نه دی ترلاسه کړی. جاوېد دایمي کار نه لري، خو د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره په ورځنیو لنډمهالو کارونو لاس پورې کوي. هغه وایي: «دلته د کار شرایط ډېر سخت دي. کارفرمایان پوهېږي چې اسناد راسره نشته، نو ځکه لږې پیسې راکوي .اسناد لرونکي کسان په یوه ورځ کې ۶۰ یورو ترلاسه کوي، خو زه مجبور یم چې په ۱۵ یا ۲۰ یورو قناعت وکړم. کاري بیمه هم نه لرم«.**




عبدالرب (په منځ کې) له خپلو دوو ملګرو سره. انځور: کډوال نیوز

**شاوخوا ۶۰۰ زره بې اسناده کارګر**

په ایټالیا کې ګڼ شمېر بهرنیان تور کار کوي. د کارګرو د حقونو مدافع بنسټ یا یو اس بي سنډیکا کې د کډوالو د کار څانګې مشر ستېفانو جیانادرېا دې انجېلیس وایي چې اوسمهال دغه هېواد کې د بې اسناده کارګرو شمېر ۶۰۰ زرو تنو ته رسېږي. نوموړی زیاتوی: «له هغه وروسته چې په ۲۰۱۸ کې د کورنیو چارو پخواني وزیر ماتیو سالویني د وړاندیز پر اساس د امنیت قانون تصویب شو، د کارګرو شمېر کې زیاتوالی راغی.» یو اس بي د ایټالیا په بېلابېلو سیمو کې د هغو کارګرو له حقونو څخه دفاع کوي چې د زراعت او لوجستیک په برخو کې په کار بوخت دي.

ستېفانو وایي چې دوی د کډوالو کارګرو د ستونزو د هوارولو لپاره د مختلفو ټولنو له مشرانو سره په اړیکه کې دي. دغه اتحادیه همدا راز د کارګرو لپاره روزنیز پروګرامونه هم جوړوي چې په ترڅ کې یې بهرنیانو ته د هغوی د حقونو په هکله اطلاع ورکول کېږي. ستېفانو زیاتوي چې سږ کال دوی په ۲۵-۲۰ ښارونو کې مهاجرو ته معلوماتي پروګرامونه جوړ کړي دي او په بېلابېلو برخو کې یې بهرنیو کارګرو ته مرسته رسولې ده. د هغه په وینا، یو اس بي غواړي چې په نږدې راتلونکي کې ټوله ایټالیا کې روزنیز پروګرامونه پیل کړي.

تور کار او توقیف ځایونه

خو ایا جاوېد او عبدالرب پوهېږي چې د پولیسو له خوا د نیول کېدو په صورت کې کېدای شي تر قضایي تعقیب لاندې ونیول شي؟ عبدالرب وایي چې تر اوسه پورې له کومې ستونزې سره مخ شوی نه دی او له خپل کسب او کار څخه راضي دی. جاوېد بیا وایي چې له نیول کېدو څخه وېره لري. د ایټالیا د قوانینو له مخې، هغه کارفرمایان چې په غیر قانوني توګه کارکوونکي ګوماري کېدای شي جریمه شي. خو بې اسناده کارګر بیا ممکن توقیف ځایونو ته واستول شي. یو اس بي سنډیکا کې د کډوالو مدافع وکیل ماتیو ګریګوریو په خبره، چارواکي صلاحیت لري چې کډوال تر ۶۰ ورځو پورې په توقیف ځای کې وساتي. خو په وینا یې ځینې کسان له میاشتو راهیسې په توقیف خانو کې بند پاتې دي.

هغه زیاتوي: «دلیل یې دا دی چې د توقیف ځایونو مسولین د بندیانو د شمېر په تناسب له دولت څخه پیسې اخلي. که چېرې په یو توقیف ځای کې د بندیانو شمېر زیات وي، نو مسولینو ته یې زیاتې پیسې ورکول کېږي.» دغه توقیف ځایونه د خصوصي سکټور تر اداري لاندې دي.




یو اس بي سنديکا کې د کډوالو د کار څانګې مشر ستېفانو جيانادرېا دې انجېليس او مدافع وکيل ماتيو ګريګوريو

»د اصلي ستونزې پېټول«

په ځينو حالاتو کې بيا بې اسناده کارګرو ته د ايټاليا د خاورې د پرېښودو اسناد يا «ترک خاک» ورکول کېږي. خو ډېرى وختونه اخراجېدونکي کسان په ايټاليا کې پاتې کېږي او د سړکونو پر غاړه شپې ورځې تېروي. ستېفانو وايي» :د کډوالو ايستل يوه پيچلې او ګرانه پروسه ده. له همدې کبله چارواکي د بې اسناده کسانو له ايستلو څخه ډډه کوي«.

د يو اس بي سنديکا دغه مسول د اوسني حالت پړه پر حکومت اچوي او وايي چې چارواکي د ستونزې د هوارولو اراده نه لري. د ستېفانو په خبره، په ټوله ايټاليا کې د کډوالو د دوسيو د څېړلو لپاره يوازې ۸۰۰ کارکوونکي شته چې د لنډمهال لپاره په دنده ګومارل شوي دي .هغه زياتوي: «د حکومت موخه د اصلي ستونزو پټول دي. چارواکي د کډوالی مسلې څخه ابزاري ګټه پورته کوي.» د نوموړي په وينا، که څه هم په ۲۰۱۸ کې د ايټاليا حکومت بې اسناده کډوالو ته د اسنادو د ورکولو ژمنه کړې وه، خو پنځه کاله وروسته لا هم څه باندې ۱۲۷ زره کسان د انتظار په لېست کې دي .

دا هم ولولئ :د ايټاليا روم ښار کې د پناه غوښتنې سيستم ته د لاسرسي ستونزې: «دلته ژوند له کړاوه ډک دی«

## ۱۵۶ مهاجر در بندر چیویتاوکیا در ایتالیا از کشتی نجات پیاده شدند

مهاجرنیوز




یک کشتی نجات با ۱۵۶ مهاجر از جمله ۳ کودک و حدود ۳۰ مهاجر زیر سن و بدون همراه، روز یکشنبه در بندر چیویتاوکیا در نزدیکی روم پایتخت ایتالیا لنگر انداخت. گفته شده است که این مهاجران از کشورهای مختلف افریقایی و همچنین بنگله دیش و پاکستان بودند.

براساس گزارش رسانه های ایتالیایی، این مهاجران در همان روز اجازه پیاده شدن از کشتی نجات را به دست آوردند و به مراکز پذیرش انتقال یافتند .

امانوئل نانینی، رئیس عملیات سازمان ایتالیایی"Emergency" ، گفته است که برخی از نجات‌یافته‌ها نشانه‌های آشکاری از شکنجه‌هایی که در لیبیا متحمل شده‌اند، دارند. وی اعلام کرد که کشتی "لایف ساپورت" روز چهارشنبه به آب های بین المللی در سواحل لیبیا بازخواهد گشت. براساس این گزارش، ۴۶ مهاجر پنجشنبه شب از یک قایق چوبی پر ازدحام در خارج از منطقه ۱۲ مایلی لیبیا نجات یافتند. صبح روز بعد، پس از اینکه مقامات ایتالیایی قبلاً بندر چیویتاوکیا را برای لنگر اداختن و پیاده شدن تعیین کرده بودند، کشتی نجات "حمایت از زندگی" یا "لایف ساپورت؛ ۱۱۰ مهاجر

را از یک قایق پلاستیکی نجات داد. بر اساس اطلاعات، مهاجران از کشورهای مختلف افریقایی و همچنین بنگله دیش و پاکستان بودند.

سازمان "اورژانس"، مستقر در میلان، کمک های صحی را در مناطق درگیرجنگ و بحران در سراسر جهان ارائه می دهد.

## اروپايي هيوادونو ته د کډوالو د قاچاق په تور ۱۳ تنه نیول شوي

مهاجرنیوز



د سلوانیا پولیس، ۱۳ تنه په دې تور نیولي چې کډوال يي د بالکان له لارې اروپايي هيوادونو ته په ناقانونه ډول لیږدول. قاچاقچیان د سلواني، صربیا او بوسنیا اصلي اوسیدونکي دي چې د کډوالو د قاچاق له اړخه يي ۳ میلیونه یورو ګټه ترلاسه کړې.

د قانون د اجرا لپاره د اروپا آژانس ) يوروپول(، د پنجشنبې په ورځ د فبروری په ۱۶ مه خبر ورکړ چې، هغه ۱۳ کسيزه ډله يي نيولې چې ۲۱۲ کډوال يي سربيا او هنګري څخه اتريش او يا هم د کرواسيا او سلوانيا څخه ايټاليا ته قاچاق کول.

یوروپل په دې اړه په یوه اعلامیه کې لیکلي چې د یو شمیر نورو اروپايي هیوادونو په همکارۍ له یوې میاشتې څېړنې وروسته، په ډاګه شوه چې تورن کسان له هر کډوال څخه له ۱۵ زرو څخه تر ۲۰ زره یورو ترلاسه کړې چې ټولټال ۳ میلیونه یورو کیږي.

نیول شوي کسان له سربیا څخه اتریش ته د هر کډوال په سر د ناقانونه سفر په بدل کې ۵۰۰۰ یورو ترلاسه کول چې یوازې له همدغې لارې یې ۱۰۰ زره یورو ګټه ترلاسه کړې وه.

کډوال معمولا د لاربښوونو په مرسته له سربیا څخه هنګري ته په پیاده ډول لیږدول کیدل چې وروسته بیا په موټرو کې دوی خپل سفر ته دوام ورکول .




نور ولولئ :<u>د بلغاریا پولیسو ۵۸ افغان کډوال له یو موټر څخه موندلي</u>

د یوروپل څیړنې ښیي چې په یو موټر کې حتی ۳۷ کډوال هم ځای پر ځای شوي و چې د دوی روغتیا او ژوند یې له سخت خطر سره مخامخ کړی و. وروسته بیا دغه کډوال له هنګري څخه د اتریش پولې ته خوشي شوي چې له پولې هاخوا په اتریش کې یې ځانونه پولیس ته تسلیم او د پناه غوښتنه یې کړې وه .

یوروپل ویلي چې قاچاقچیانو د ټولنیزو شبکو له لارې کډوال ناقانونه لارو ته هڅول او په ۱۶ بیلابیلو پیښو کې د دوی د انتقال زمینه برابره شوې وه.

له تورنو کسانو څخه بیلابیل ډول وسلې، مخدره توکي، او نور ناقانونه وسایل هم نیول شوي دي.

## د ایټالیا روم ښار کې د پناه غوښتنې سیستم ته د لاسرسي ستونزې» :دلته ژوند له کړاوه ډک دی«

مهاجرنیوز

د ایټالیا په روم ښار کې کډوال د خپلو پناه غوښتنلیکونو د ثبت لپاره په میاشتو میاشتو انتظار باسي. ډېری دغه کډوال دولتي سرپناوو ته لاسرسی نه لري او د سړکونو پر غاړه د کډوالۍ شپې ورځې تېروي. که څه هم ځینې سازمانونه هڅه کوي چې د بېلابېلو پروګرامونو له لارې له سرپناه نه لرونکو کډوالو سره مرسته وکړي، خو دوی وایي چې دا هڅې کافي نه دي او د پناه غوښتنې په سیستم کې باید بدلون رامنځته شي.

جاوېد د ایټالیا پلازمېنې روم ښار د کډوالو اداري یا کوېستورا مخې ته ولاړ دی. دغه ځلوېښت کلن کردی کډوال نن پنجشنبه د فبرورۍ ۱۶مه له خپل ملګري سره یو ځای د کډوالو اداري ته راغلی دی. هغه چې په خبره کې یې له ورایه د ستړیا او ژورې ستومانۍ نښې لیدل کېږي څه باندې ۱۴ کاله مخکې د خپل هېواد عراق پرېښودو ته اړ شوی دی، خو تر اوسه یې اسناد نه دي ترلاسه کړي. جاوېد وایي: «له لسو کلونو وروسته له سویډن څخه عراق ته واستول شوم. دویم ځل د ترکیې او یونان له لارې ایټالیا ته راغلم، دلته مې ګوتې ولګولې، خو نه مې غوښتل چې ایټالیا کې پاتې شم. نو ځکه اتریش ته ولاړم.» خو اتریشي چارواکو هغه د ډوبلین مقرراتو پر اساس ایټالیا ته واستاوه.

دغه کردی کډوال وایي: «کله چې ایټالیا ته راغلم، حال مې ډېر خراب و او ډېرې ستونزې مې درلودې. څو ځله مې له کویستورا څخه د سرپناه غوښتنه وکړه، خو چا سرپناه نه راکوله.» جاوېد د سلګونو نورو مهاجرو په شان شپې ورځې پر سړکونو تېرې کړې دي. هغه وایي: «له مجبورۍ مې وکیل ته مراجعه وکړه. وکیل پیسې غوښتلې، پیسې مې ورکړې. کوېستورا دوه میاشتې وروسته په یوه کمپ کې ځای راکړ«.



ډېرى کډوال وايي چې د ایټالیا پلازمېنه روم ښار کې د کډوالو ادارې ته د لاسرسي لپاره په اونیو اونیو انتظار کوي.

اخځور: کډوال نیوز

د پناه غوښتنې سیستم ته نه لاسرسی

په ایټالیا کې د جاوېد په څېر ګڼ شمېر کډوال د سرپناه او اسنادو د نه لرلو له ستونزې سره مخ دي. ډېرى دغه کډوال کویستورا کې د خپلو پناه غوښتنلیکونو د ثبت لپاره په اونیو اونیو انتظار باسي او د یادې ادارې مخې ته شپې سبا کوي. دوی وايي چې هر کله چې د کډوالو ادارې ته مراجعه کوي، څوک یې پوښتنو ته ځواب نه وايي او کویستورا ته د داخلېدو اجازه نه ورکول کېږي.

ایټالیا کې د ارچي سازمان کارکوونکی جیووانې وانورې کډوال نیوز سره په مرکه کې وايي چې اصلي ستونزه دا ده چې کډوال د پناه غوښتنې سیستم ته لاسرسی نه لري .هغه زیاتوي: «کډوال یوازې هغه وخت د سرپناه سیستم او ټولنیزو خدماتو ته لاسرسی موندلی شي چې د پناه غوښتنه یې کړې وي. خو ایټالیا کې پناه غوښتل اسان نه دي. له همدې کبله ډېرى کډوال تر شنه اسمان لاندې شپې سبا کوي ».ارچي سازمان د ایټالیا په بېلابېلو ښارونو کې کډوالو ته د ادغام په برخه کې خدمات برابروي او عامه افکارو کې د بدلون په موخه بېلابېلې فرهنګي برنامې جوړوي.

د ارچي بله غړې ګیا پیپېتوالي بیا وايي چې دوه ډوله کډوال ایټالیا ته راځي: «هغه کسان چې د مدیترانې سمندر له لارې ځانونه ایټالوي بنادرو ته رسوي او هغه کسان چې د ځمکې له لارې – د بېلګې په توګه د بالکان مسیر څخه – ایټالیا ته رسېږي». د هغې په خبره، لومړی ډول له ځینو امکاناتو برخمن کېږي ځکه چې له سمندره د ژغورل شویو کډوالو لپاره یوه رسمي پروسه موجوده ده. خو هغه کډوال چې د بالکان هېوادونو له لارې ایټالیا ته راځي دوی له ګڼو ستونزو سره مخ کېږي او په سختۍ سره سرپناه موندلی شي. نومورې زیاتوي: «چارواکي د کډوالو تابعیت ته هم ګوري. د ځینو هېوادونو لکه الجزایر، مراکش، نایجریا، بنګله دېش او پاکستان اتباع د اقتصادي کډوالو په توګه پېژندل کېږي خو د افغانانو په ګډون ځینې نور کډوال سیاسي مهاجر دي«.




**د ارچي سازمان رضاکاره له یوه کډوال سره. دغه پروژه د کډوالو ادغام ته ځانګړې شوې ده. انځور: کډوال نیوز**

**»د کډوالۍ په روایت کې بدلون«**

**ډېرش کلن ذاکر د غزني اوسېدونکی دی او له څو کلونو راهیسې د اروپایي ښارونو په سړکونو کې لالهاند ګرځي. هغه چې په فرانسه کې یې دوسیه رد شوې او له څو اونیو راهیسې ایتالیا کې د سړک پر غاړه ژوند تېروي د جمعې ورځې د ماښام په ۷ بجو د روم ښار مرکز ته راغلی دی چې باووباب اکسپرینس سازمان کډوالو ته پکې خواړه، کالي او نور ضروري وسایل ورکوي. ذاکر وایي: «دلته د ټولو کډوالو وضعیت خراب دی. څوک ستاسې دوسیه نه ثبتوي، کډوالو ته سرپناه او پیسې نه ورکول کېږي. زما په شان ګڼ شمېر خلک په ویجاړو او له چټلیو ډکو ودانیو کې ژوند کوي.» نوموړی چې له یوې اونۍ راهیسې یې حمام نه دی کړی وایي چې هره ورځ کویستورا ته ځي ترڅو خپله دوسیه ثبت کړي، خو څوک ورته کویستورا ته د داخلېدو اجازه نه ورکوي .**

**د باووباب اکسپرینس سازمان مشر اندریا چې هره ورځ پر کډوالو خواړه او نور وسایل وېشي او د مهاجرو لپاره فرهنګي پروګرامونه هم جوړوي وایي: «ځینې هغه کسان چې د پناه غوښتنه یې هم کړې ده سرپناه نه لري. چارواکي ورته وایي چې د هرکلي مرکزونه خالي نه دي. له همدې کبله کډوال په میاشتو میاشتو د ښار په سړکونو کې لالهانده ګرځي.» نوموړی زیاتوي: «اصلي ستونزه دا ده چې حکومت د کډوالۍ له مسلې څخه ابزاري ګټه پورته کوي. وضعیت له کلونو را په دې خوا همداسې دی.» هغه په دې اند دی چې د اوسني حالت د ښه کولو لپاره باید «د کډوالۍ په روایت کې بدلون» رامنځته شي. په وینا یې «رېښتنی مبارزه فرهنګي مبارزه ده.«**

ارچي او باووباب اکسپرینس هغه سازمانونه دي چې د کډوالو د ادغام په برخه کار فعالیت کوي. د ارچي سازمان غړې ګایا پیتراوالي په وینا، په ایټالیا کې «د مهاجرو ادغام لپاره دولتي سیستم نه دی موجود»، نو ځکه دوی هڅه کوي چې تولنه کې د ادغام د پروګرامونو تش ځای ډک کړي. ارچي د ۲۷ پروګرامونو له لارې چې له اداري او حقوقي مسایلو څخه نیولی تر فرهنګي برنامو او کار موندنې پورې پکې شامل دي له کډوالو سره مرسته کوي.




د باووباب اکسپرینس سازمان حقوقي ډله کډوالو ته د اداري
چارو په اړه سلامشورې ورکوي. انځور: کډوال نیوز

درې متره مربع کوټه کې ژوند

باووباب بیا په دربو اپارتمانونو کې سرپناه نه لرونکو کډوالو ته ځای ورکوي او دغه راز د ورځې درې ځله پر کډوالو خواړه، کالي او نور وسایل وېشي او کډوالو ته د زدکړو زمینه هم برابروي. د باووباب روغتیایي او حقوقي ډله هغو کسانو ته وړیا سلامشورې ورکوي چې له روحي او یا اداري ستونزو سره مخ دي. د باووباب اکسپرینس مشر اندریا وایي: «موږ د کډوالو د لاسنیوي لپاره خپلې تولې هڅې کوو. خو پوهېږو چې دا هڅې وضعیت کې د بدلون لپاره کافي نه دي«.

جاوېد چې اوس د روم ښار د کډوالو په یو کمپ کې اوسېږي له خپل ژوند څخه خوشاله نه دی. نوموړی چې د سرپناه د موندلو لپاره لګښت پرې راغلی دی وایي چې له دربو نورو کډوالو سره یو ځای په یوه درې متره مربع کوټه کې ژوند کوي. د جاوېد دوسیه یو ځل بیا رد شوې ده. هغه چې له محکمې څخه یې د استیناف غوښتنه کړې ده هیله لري چې دا ځل یې غوښتنې ته مثبت ځواب ورکړل شي.

جاوېد وايي: «ډېر وخت کېږي چې له خپل هېواد څخه مهاجر شوی یم. نور عراق ته نه شم ستنېدلی. نه غواړم چې تېر زمان او مکان ته ستون شم، خو ایټالوي چارواکي نه غواړي چې زه دلته پاتې شم. اوس مې ټول فکر دا دی چې اسناد ترلاسه کړم .ایټالیا کې ژوند له کړاوه او رواني فشارونو ډک دی. نه پوهېږم چې برخلیک به مې څنګه شي«.

خو ذاکر بیا په پام کې لري چې یو ځل بیا د ونتمیل له لارې فرانسې ته سفر وکړي. هغه وايي چې ایټالیا کې یې راتلونکی «ناڅرګند» دی خو ښايي دا ځل په فرانسه کې ورته د منل کېدو چانس برابر شي.